مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۸۸** (از ۱۱ الی ۱۸ جدی ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

**د حزب اسلامي-افغان حکومت د سولې تړون برخليک**

د حزب اسلامي-افغان حکومت د سولې تړون ........................................ ۴

له حزب اسلامي سره د سولې د تړون تطبيق ........................................ ۴

د سولې د تړون په تطبيق کې بهرني خنډونه ........................................ ۵

له حزب سره د سولې برخليک ........................................ ۶

**سال ۲۰۱٦ و وضعیت مبارزه با فساد اداری**

حکومت وحدت ملی و مبارزه با فساد اداری ........................................ ۹

وضعیت فساد اداری در سال ۲۰۱٦ ........................................ ۹

اقدامات عملی حکومت ........................................ ۱۰

## مقدمه

د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د سولې تړون له لاسلیک کېدو څه باندې درې میاشتې تېرېږي، خو لاهم د دغې ډلې مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار کابل ته نه دی راغلی او نه هم د دغه هوکړه‌لیک مهمې مادې او ژمنې عملي شوې دي.

د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه د حزب اسلامي د مشر نوم لرې کېدل د دغه هوکړه‌لیک یوه مهمه ژمنه ده؛ خو څو ورځې وړاندې داسې خبرونه خپاره شول، چې فرانسه له تور لېست څخه د نوموړي د نوم له لرې کېدو سره مخالفت کوي. وروسته بیا د روسیې د بهرنیو چارو وزارت هم اعلان وکړ، چې له تور لېست څخه د حکمتیار نوم لرې کول یې ځنډولي او په دې اړه څه زیات وخت ته اړتیا ده. په بل اړخ کې حزب اسلامي بیا له تور لېست څخه د دغه ګوند د مشر نوم لرې کېدل مهم ونه بلل او د هوکړه‌لیک د نورو مادو پر عملي کېدو یې ټینګار وکړ.

دا چې له حزب اسلامي سره شوې هوکړه تراوسه څومره عملي شوې؟ پر وړاندې یې مهم خنډونه څه دي؟ او د دغه هوکړه‌لیک راتلونکی به څه وي؟ د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د ځانګې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې په ۲۰۱٦ کال کې د اداري فساد وضعیت او پر ضد یې د ملي وحدت حکومت د مبارزې په اړه لولئ. د نوي زېږدي کال له پیل سره ولسمشر غني د اداري فساد پرضد ځینې ګامونه اوچت کړل، چې ورته اقدامات د تېر ۲۰۱٦ کال په اوږدو کې هم ځینې مهال شوي وو، مګر په هېواد کې د اداري فساد کچه د تېرو کلونو په پرتله نوره هم لوړه شوه. په دې برخه کې به د اداري فساد پر ضد د ملي وحدت حکومت د کړنو او په ځانګړې ډول په ۲۰۱٦ کال کې د اداري فساد د وضعیت او د حکومت د عملي ګامونو په اړه شننه ولولئ.

# د حزب اسلامي-افغان حکومت د سولې تړون برخلیک



له تېرې اوونۍ راهیسې په رسنیو کې داسې خبرونه خپرېږي، چې روسیه او فرانسه د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د افغانستان د هغې غوښتنې په لاره کې خنډونه جوړوي، چې له مخې یې د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار د نوم لرې کول غواړي. د حزب اسلامي (حکمتیار) او افغان حکومت ترمنځ د سولې د هوکړه‌لیک له دریو مهمو ژمنو څخه یوه هم دا وه، چې افغان حکومت به د حکمتیار نوم له تور لېست څخه وباسي.

که څه هم حزب اسلامي د فرانسې او روسیې له مخالفت وروسته د یوې اعلامیې په خپرولو سره له تور لېست څخه د دغې ډلې د مشر نوم ایستل مهم ونه بلل او د دوی په وینا د حزب مشر د کوم هېواد ویزه نه غواړي او دا د افغانانو خپلمنځي هوکړه ده؛ خو بیا هم دا ژمنه د دغه هوکړه‌لیک له مهمو مادو څخه ګڼل کېږي او د افغان حکومت پر حیثیت او دغه هوکړه منفي سیوری غوړولی شي.

د سولې پر دغه دوه‌اړخیز تړون کابو درې میاشتې تېرېږي؛ خو افغان حکومت لاهم په هوکړه‌لیک کې راغلې ژمنې نه دي عملي کړې. دا چې د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې موافقتامې په تړاو تراوسه څه شوي، څومره عملي شوې، په لاره کې پراته خنډونه څه دي، بالاخره به د دغه تړون برخلیک څه وي او له طالبانو سره د سولې په احتمالي خبرو اترو څه اغېزې ښندي؟ هغه پوښتنې دي چې په دغه تحلیل کې مو ځواب کړې دي.

## د حزب اسلامي-افغان حکومت د سولې تړون

د حزب اسلامي د اجرائیه شورا مهم غړی ډاکتر غیرت بهیر په ۱۳۸۷ کال کې د بګرام له زندانه خوشې شو او د حزب اسلامي او افغان دولت ترمنځ د سولې خبرې اترې هم له همدې نېټې پیل شوې. په پیل کې حزب اسلامي د بېلابېلو اعلامیو په خپرولو سره د سولې د توافق لپاره شرطونه کېښودل او ډېری دا اعلامیې به یې د مهمو پېښو پرمهال خپرولې. د بېلګې په توګه کله چې په ۱۳۸۹ کال کې د امریکا ولسمشر بارک اوباما له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو پرېکړه وکړه، حزب اسلامي اعلامیه خپره کړه. بل ځل چې کله د افغان طالبانو د قطر دفتر پر سر لانجه راپورته شوه، حزب اسلامي یو ځل بیا خبرو اترو ته لېوالتیا وښوده.

د یوې څېړنې له مخې، حزب اسلامي له ۱۳۸۹ کال څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې ۱۷ ځله خپل پلاوي د سولې د خبرو اترو په موخه کابل ته راولېږل. له ۱۳۹۲ کال څخه تر ۱۳۹۳ کال پورې یې هم څو ځله خپل پلاوي راواستول؛ خو دغو هڅو کومه څرګنده پایله ونه درلوده. هغه مهال د خبرو اترو د ناکامېدو عمده لاملونه د جګړې په ډګر کې د حزب اسلامي کم رول، له حزب اسلامي سره د ځینو لورو ژور مخالفت، په خبرو اترو کې د حزب اسلامي سخت دریځ، د حزب اسلامي پاشلی دریځ او په دولت کې د یوه بدیل حزب اسلامي شتون وو.

د اشرف غني له واک ته رسېدو سره او بیا چې کله د سولې د څلور اړخیزو خبرو اترو له دوو غونډو وروسته افغان طالبان د خبرو اترو مېز ته حاضر نه شول، نو د افغان دولت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې د خبرو اترو لړۍ ګړندۍ شوه او په پای کې د ۲۰۱٦ کال د سپټمبر پر ۲۲مه د دواړو لورو لهخوا د سولې پر تړون لاسلیک وشو.

## له حزب اسلامي سره د سولې د تړون تطبیق

له حزب اسلامي سره د سولې د تړون له لاسلیک کولو وروسته، د دغه تړون د موادو د تطبیق ګډ کمیسیون جوړونې وخت واخیست، چې بیا د ولسمشر د ځانګړي فرمان له صادرېدو سره د ۲۰۱٦ کال په نوامبر میاشت کې جوړ شو. د افغان حکومت د پلاوي مشر ډاکتر اکرم خپلواک، او غړي یې فیض الله ذکي او محمد مسعود اندرابي وټاکل شول. د حزب اسلامي لهخوا د پلاوي مشري قاضي عبدالحکیم حکیم او غړي یې محمد امین کریم او غیرت بهیر وو. په بل اړخ کې د سولې عالي شورا لهخوا عزیزالله دین محمد، عطاء الرحمن سلیم، حبیبه سرابي او مولوي عبدالخبیر او چقون د کمیسیون غړي وټاکل شول.

د نوامبر میاشتې په لومړۍ اوونۍ کې د سولې د موافقتنامې د پلي کولو ګډ اجرایوي کمیسیون خپله لومړنۍ غونډه وکړه او د دغه کمیسیون په دندو کې د لاندې دریو ژمنو عملي کول شامل شول:

**لومړی**؛ د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار نوم ایستل؛

**دویم**؛ د حزب اسلامي د بندیانو خوشې کول؛

**درېیم**؛ د حزب اسلامي اړوندو کډوالو ته تر ۲۰ زرو نومرو پورې یوه سیمه ورکول.

د لومړۍ ژمنې د عملي کولو په موخه افغان دولت د ملګرو ملتونو قوانینو ته په کتلو سره د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه د حکمتیار د نوم ایستلو په تړاو خپل دلایل په غوښتنلیک کې ولیکل او په ډسمبر میاشت کې یې ملګرو ملتونو ته واستول. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا مشر د افغان حکومت لهخوا وړاندې شوي دلایل د امنیت شورا غړو هېوادونو ته ولېږل، ترڅو په لسو ورځو کې خپل ځواب ووایي. د رسنیو د معلوماتو له مخې، لومړی د فرانسې حکومت او بیا په رسمي توګه روسیې د لسو ورځو وخت وځنډاوه او په دې اړه د زیات وخت غوښتونکي شول. که څه هم د حزب اسلامي د ویاند له قوله، افغان حکومت د فرانسې ولسمشر او پارلمان ته په دې تړاو لیکونه استولي او هغوی په امنیت شورا کې د همکارۍ ژمنه کړې؛ خو د روسیې د غبرګون بدلولو په تړاو تراوسه څه نه دي شوي.

د دویمې ژمنې په تړاو حزب اسلامي د ۵۰۰ بندیانو یو ابتدایي لیست حکومت ته سپارلی؛ خو تراوسه افغان حکومت د حزب اسلامي یو تن هم له زندانه نه دی خوشی کړی.

د درېیمې ژمنې په تړاو هم د حکومت له اړخه په عملي ډګر کې څه نه دي شوي؛ خو حکومت ژمنه کړې، چې په برحاله ښارګوټو کې به د حزب اسلامي کډوالو ته ځایونه ورکړي. په بل اړخ کې حزب اسلامي هم د کابل ولایت په ځینو سیمو کې د کډوالو د پنډغالو لپاره خپلې سروېګانې پیل کړې دي.

## د سولې د تړون په تطبیق کې بهرني خنډونه

له حزب اسلامي سره د سولې تړون د عملي کولو په لاره کې بهرني خنډونه شته دي او په تېره بیا د روسیې لخوا داسې مهال خنډونه جوړېږي، چې د روسیې-چین-پاکستان په دریاړخیزه غونډه کې د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه د ځینو طالب مشرانو د نومونو ایستلو په اړه همغږي ښودل شوې؛ خو د حزب اسلامي د مشر

حکمتیار د نوم ایستلو په لاره کې خنډونه جوړوي. دا واقعاً یو هېښوونکی کار دی او په هېواد کې یې د روسانو له درې‌اړخیزې غونډې وروسته د روسانو په لور شکونه زیات کړي؛ ځکه روسیې په پیل کې له حزب سره د افغان حکومت له تړون څخه ملاتړ کړی و او د روسیې له‌خوا د داسې چارې تمه نه وه.

که څه هم روسیه د دغه کار تر شا لوی لامل په منځني ختیځ، اروپا او نورو مهمو نړیوالو پېښو کې خپله ښکېلتیا ګڼي او د حزب اسلامي د مشر په تړاو له ۱۰ ورځو څخه د زیات وخت غوښتونکې ده. خو بیا هم، د مسکو د دغه کار تر شا د امریکا-روسیې روانه سړه جګړه تر څه حده رول لوبوي. ځکه دوی له یوې خوا غواړي امریکا ته په داسې حال کې سرخوږی زیات کړي، چې وار له مخه یې له دغه تړون څخه هرکلی او ملاتړ کړی، بلکې ترڅنګ به یې د راتلونکو ګواښونکو میاشتو وضعیت ته په پام سره د ځان لپاره وخت هم اخیستی وي.

په بل اړخ کې ښایي د روسانو د دریځ تر شا هم د فرانسویانو په څېر، چې د مخالفت لوی لامل یې د حزب اسلامي ډلې له‌خوا په ۲۰۱۳ کال کې په تګاب کې له ۱۰ د زیاتو فرانسوي سرتېرو وژل وو، په یوه کمزوري احتمال د شوروي-افغان جګړې سیوری غوړلی وي. دوی به ونه غواړي، هغه حکمتیار چې د روسانو د وژونکي په نوم مشهور و، په دومره اسانۍ سره د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه ووځي.

## له حزب سره د سولې برخلیک

که څه هم له حزب اسلامي سره د سولې د موافقتنامې په ژمنو ابتدايي کارونه شوي؛ خو په ټوله کې تراوسه یوه ژمنه هم نه ده عملي شوې او اوس پکې د یوې مهمې ژمنې په تړاو د روسیې لخوا د شپږو میاشتو زیات وخت غوښتنه هم ورګډه شوه.

که چېرې د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې روسیه د حکمتیار د نوم ایستلو په تړاو قرارداد ویټو کړي، نو افغان حکومت بیا هم کولای شي، د نورو ژمنو د عملي کولو او د پاتې څلورو ویټو ځواکونو په ملاتړ تر ډېره د حزب اسلامي پر مشر بندیزونه راکم کړي. دا هغه څه دي، چې حزب اسلامي هم په خپله وروستۍ اعلامیه کې غوښتي دي. خو بیا هم د زندانیانو د خوشي کولو او د کډوالو د ښارګوټو په لاره کې خنډونه جوړېدل او په ډېرې توګه د توافقنامې نه عملي کېدل به نه یوازې دا چې د حزب اسلامي او حکومت ترمنځ بې‌باوري زیاته کړي، بلکې د خکو باور به نور هم پر افغان حکومت راکم کړي. د بېلګې په توګه، افغان حکومت د یوې کړۍ د فشارونو له کبله نه غواړي، چې حزب اسلامي ته په کابل کې یو ځانګړی ښارګوټی یا پنډغالی ورکړل شي.

له حزب اسلامي سره د سولې تړون عملي کول له طالبانو سره د سولې د احتمالي تړون له عملي کولو څو وارې اسانه دي. په دې برخه کې د افغان حکومت ناکامي او د سولې د تړون په عملي کولو کې ځنډ به د افغان طالبانو پر اذهانو هم ژوره اغېزه وښندي، په تېره بیا که چېرې دوی هم له افغان حکومت سره د سولې د خبرو اترو پیلول وغواړي. له طالبانو سره به دا پوښتنه هرومرو وي، چې افغان حکومت حکمتیار د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه نشي ایستلای نو د دوی ډېرې غړي به څرنګه وباسي؟ دوی څرنګه پر افغان حکومت باور وکړي؟ دوی چې د حزب اسلامي ډېرې محدودې او آسانه ژمنې عملي نه شوای کړای، نو د دوی غوښتنې او له دوی سره ژمنې به څرنګه عملي کړي؟ دا هغه نکات دي، چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو اترو او هوکړې پر احتمالي چانسونو به خورا منفي سیورې وغوړوي او دا چانسونه به صفر ته راټیټ کړي.

# سال ۲۰۱٦ و وضعیت مبارزه با فساد اداری



با آغاز سال ۲۰۱۷ میلادی در نخستین اقدام حکومت در امر مبارزه با فساد اداری، رئیس جمهور غنی با صدور فرمانی مجتبی پتنگ، جمیل جنبش و جمال ناصر صدیقی، معینان پیشین وزارت امور داخلۀ کشور را به اتهام "فساد در قراردادهای" این معینیت، به لوی سارنوالی معرفی و آنان را ممنوع الخروج اعلام کرد. در کنار این، وظیفۀ عبدالرزاق وحیدی وزیر مخابرات و تکنالوژی معلوماتی نیز به اتهام فساد مالی از سوی رئیس جمهور به تعلیق درآمد.

باآنکه رهبران حکومت وحدت ملی همواره فساد اداری را یکی از چالش‌های بزرگ قلمداد نموده و به مردم افغانستان و جامعۀ بین‌المللی تعهد سپرده که در برابر این معضل قاطعانه مبارزه خواهند کرد؛ ولی با وجود وعده‌های حکومت و برخی اقدامات عملی، میزان فساد اداری در سال ۲۰۱٦ نسبت به سال قبل افزایش یافت و مبارزۀ حکومت وحدت ملی با این پدیده موفق نبوده است.

## حکومت وحدت ملی و مبارزه با فساد اداری

مبارزۀ جدی با فساد اداری یکی از اولویت‌ها و وعده‌های سران حکومت وحدت ملی بود؛ اما با وجود شماری از اقدامات حکومت، میزان فساد اداری در مدت دو سال عمر حکومت وحدت ملی روبه افزایش بوده و هنوز هم نام افغانستان در میان کشورهایی قرار دارد که با میزان بلند فساد اداری روبه‌رو است.

رئیس جمهور غنی در نخستین روزهای کارش دستور بازگشایی قضیۀ کابل‌بانک را صادر کرد و تعهد سپرد که عاملین این قضیه را مجازات خواهد کرد؛ ولی با گذشت چند ماه، عملکرد حکومت در برابر آن قضیه ضعیف شد و تعهدات رئیس جمهور برآورده نشد.

ایجاد کمیسیون تدارکات ملی به ریاست اشرف غنی، بررسی دوسیه‌های اختلاس شش تن از مقامات بلندرتبۀ وزارت شهرسازی و معرفی آنان به نهادهای عدلی و قضایی، ممنوع الخروج کردن دو شهردار پیشین شهر کابل و ۱۵۰ قرضدار قضیۀ کابل‌بانک و لغو شماری از قراردادهای وزارت دفاع که در عقد و تطبیق آن فساد گستردۀ مالی گزارش شده بود، گام‌های دیگری بود که از سوی حکومت برداشته شد؛ اما چیزیکه تا اکنون رهبران حکومت وحدت ملی بر انجام آن قادر نشده‌اند، کشانیدن افراد مفسد در داخل نظام به میز محاکمه است. یکی از دلائل آن شکل ائتلافی حکومت بود که حتی زمانی که اختلافات داخلی میان رهبران حکومت بالا گرفته بود، رئیس اجرائیۀ کشور نیز به گونه‌ای به حمایت از مفسدین از سوی رئیس جمهور متهم شد.

از یک‌سو مبارزه با فساد اداری حکومت وحدت ملی بیشتر در شعارها محدود بود و از سوی دیگر، اقداماتی نیز که صورت گرفته هماهنگ نبوده و مانند قضیۀ خلیل الله فیروزی ضد و نقیض بوده است.

## وضعیت فساد اداری در سال ۲۰۱٦

فساد اداری در کنار سایر مشکلات و چالش‌ها از جمله مهم‌ترین مشکلات کشور در سال ۲۰۱٦ بود. در این سال با وجود تعهدات مکرر حکومت در خصوص مبارزۀ جدی با فساد، افغانستان در ردۀ فاسدترین کشورهای جهان قرار گرفت.

در آخرین گزارش سازمان شفافیت بین‌الملل، افغانستان از نظر فساد در بخش دولتی مقام سوم در جهان را کسب کرد.[1] در حالیکه بربنیاد گزارش سال قبل این سازمان، افغانستان پس از کشورهای سودان، کوریای

[1] بی‌بی‌سی فارسی، «شفافیت بین‌الملل: افغانستان سومین کشور جهان از نظر فساد دولتی است»:
http://www.bbc.com/persian/afghanistan/2016/01/160127_afghanistan_transparency_international_ranking

شمالی و سومالیا در ردۀ چهارم قرار داشت. این سازمان براساس یک تحقیق دیگر اعلام کرد که ۵۰ درصد افغان‌ها نزدیک به چهار میلیارد دالر در ادارات مختلف افغانستان رشوه پرداخته اند[2].

دیدبان شفافیت افغانستان نیز ماه گذشته بربنیاد تحقیق تازۀ خود اعلام کرد که افغان‌ها سالانه نزدیک به سه میلیارد دالر رشوه می‌پردازند و پس از بی‌کاری و ناامنی، فساد اداری سومین و بزرگ‌ترین مشکل مردم افغانستان به شمار می‌رود.[3] این اداره دو سال قبل براساس سروی انجام‌شده، فساد اداری را دومین مشکل عمدۀ مردم افغانستان، ولی میزان رشوت پرداخته شده را دو میلیارد دالر اعلام کرده بود.

در کنار این دو نهاد، نهاد آسیا فاوندیشن نیز در تحقیق سالانۀ خود نگاشته است که در سال ۲۰۱٦ میلادی نارضایتی مردم از حکومت وحدت ملی در حال افزایش بوده و ۵۰.۹ درصد از پاسخ دهنده‌گان در ۳۴ ولایت کشور از کارکردهای حکومت وحدت ملی راضی نبودند. بربنیاد یک سروی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی در اوسط سال ۲۰۱٦ نیز ۷٦ درصد پرسش‌شونده‌گان گفتند که حکومت وحدت ملی در امر مبارزه با فساد اداری صادقانه تلاش نورزیده است.[4]

نمایندۀ سازمان ملل متحد در افغانستان با انتقاد تند از فساد اداری و فروش پست‌های دولتی در این سال، خواهان اصلاحات عملی در عرصۀ حکومت‌داری شد. مسؤولان ملل متحد گفتند که پست‌های پولیس و قراردادها در حکومت، مانند اشیاء و اجناس به فروش می‌رسد[5].

## اقدامات عملی حکومت

حکومت وحدت ملی در سال ۲۰۱٦ برخی اقدامات عملی برضد فساد را نیز روی دست گرفت. این اقدامات بیشتر برای آماده‌گی به کنفرانس بروکسل بود که در آن فعالیت حکومت وحدت ملی به ویژه در حوزۀ مبارزه با فساد اداری بررسی می‌شد. در کنفرانس بروکسل که به تاریخ ۴ و ۵ ماه اکتوبر در پایتخت بلجیم برگزار شد، سران حکومت وحدت ملی در مورد مبارزه با فساد اداری و حکومت‌داری خوب، برکناری ٦۰۰ قاضی و قاضیان تمام ولایات، ۲۰ تن سارنوال و ۲۵ درصد کارمندان گمرکات، ضبط پاسپورت‌های بیش از ۱۰۰ مقام بلندرتبه،

---

[2] برای جزئیات بیشتر: http://da.azadiradio.com/a/27557807.html

[3] خبرگزاری جمهور، «مردم افغانستان سالانه نزدیک به سه میلیارد دالر رشوه پرداخت می‌کنند»: http://jomhornews.com/doc/news/fa/88536

[4] «افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې»، گزارش تحقیقی و تحلیلی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی در مورد وضعیت یک‌ونیم دهۀ گذشته، صفحه 162، سال چاپ: 1395 هـ ش.

[5] روزنامۀ اطلاعات روز، «انتقاد تند یوناما از فساد در ادارات دولتی»، به لینک ذیل مراجعه کنید: http://www.etilaatroz.com/40486

ثبت دارایی‌های ۹۵ درصد از مقامات حکومتی، ثبت ۶۰۰۰ جایداد، تایید حدود ۱۲۵۰ قرارداد و صرفه‌جویی ۲۲۰ ملیون دالر از جانب کمیسیون ملی تدارکات را به حیث دست‌آوردهای حکومت وحدت ملی در این عرصه ارائه کردند[6]. هرچند نهادهای مستقل این دست‌آوردها را گزارش نکرده است.

یکی از اقدامات حکومت ایجاد "شورا عالی مبارزه با فساد اداری" بود که در رأس آن خود رئیس جمهور غنی قرار دارد. این شورا به تاریخ ۵ ماه اپریل آغاز به کار کرد و معاون دوم رئیس جمهور، رئیس ستره محکمه، لوی سارنوال، وزیر عدلیه و روسای ادارۀ عالی تفتیش و مبارزه با فساد اداری اعضای این شورا می‌باشند. این شورا تنها فعالیت‌های مربوط به نهادهای مبارزه با فساد اداری را رهنمایی، رهبری و حمایت می‌کند. در عین حال پلان‌ها و استراتیژی‌های مورد نیاز را نیز تدوین و منظور می‌کند و از چگونگی اجراآت و تطبیق پلان و استراتیژی نظارت می‌کند؛ ولی در کل این شورا برخلاف توقعات، دست‌آوردهای آنچنانی نداشت.

ایجاد "مرکز عدلی و قضایی مبارزه با فساد اداری" گام دیگری بود که در امر مبارزه با فساد اداری برداشته شد و نخستین نشست آن با حضور رئیس جمهور و رئیس اجرائیه در ۲۸ جولای برگزار گردید. در آن نشست بر مبارزۀ جدی با فساد و عدم مداخلۀ سیاسی در کار این مرکز، تاکید صورت گرفت. در حالیکه انتظار می‌رفت این مرکز کارش را با دوسیه‌های مقامات بلندرتبه آغاز کند، ولی برعکس این مرکز قضیۀ سارنوال نظامی که به جرم اخذ ۵۰ هزار افغانی رشوت بازداشت شده در اولین روز کار خود مورد بررسی قرار داد و پس از آن نیز کارهای بنیادی که افغانستان را از ردۀ فاسدترین کشورهای جهان پایین بیاورد، انجام نداد.

بربنیاد معلومات مرکز عدلی و قضایی مبارزه با فساد اداری از آغاز کارش تا اواخر سال ۲۰۱۶، چندین تن از مقامات دولتی که متهم به فساد بودند، بازداشت شده و دوسیه‌های شان تحت بررسی قرار دارد که در کل حدود ۳۱ دوسیۀ فساد اداری را مورد بررسی قرار داده است. بازداشت و محاکمۀ یک افسر بلندرتبۀ وزارت داخله به اتهام اخذ ۱۵۰ هزار دالر رشوه، به تعلیق درآوردن وظایف هشت کارمند عالی‌رتبۀ دیگر و یک تن از معینان این وزارت، بازداشت شش تن به اتهام غصب زمین و هشت تن از کارمندان بانک ملی به اتهام فساد و بررسی قضیۀ یک تن از افسران قوماندانی ولایت ارزگان با مبلغ ۲۵۰ هراز دالر، سه میلیون افغانی و یک مقدار کلدار و زیورات به اتهام پولشویی، از اقدامات این مرکز به شمار می‌رود.

---

[6] مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی، «کنفرانس بروکسل: دست‌آوردهای حکومت وتعهدات جامعۀ جهانی»:
http://csrskabul.com/pa/?p=3037

باوجود برخی تلاش‌های حکومت برضد فساد اداری در سال ۲۰۱٦، گزارش‌های نهادهای تحقیقی بیانگر ناکامی حکومت در این عرصه می‌باشد و میزان فساد اداری در این سال نظر به سال قبل افزایش یافته است. مبارزه با فساد اداری بیشتر قربانی مصلحت‌ها شده و تا زمانی که با این پدیده برخورد قاطعانه صورت نگیرد، نتیجه‌ای مطلوبی را در پی نخواهد داشت. از سوی دیگر، خارجی‌ها نیز عملا در فساد اداری در افغانستان دخیل اند، ولی هیچ گامی از سوی حکومت وحدت ملی در این مورد برداشته نشد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: (93+) 784089590

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (93+) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: (93+) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.